مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیر محمد کاروان

۲۰۲۰/۰۵/۲۹

# غــزل

تاسي درومئ! کار مـې مه لرئ په کار کې
مـا تـه دوې سـترګې ولاړې دي پـه لار کې

زه پــه تـیـږو بــنـیـادم ویـشـتـلی نه شم!
زه تــکــړه یـــم د ګــلــونــو په ګوزار کې

د هـــغـــه ســږي لاســونـــــه ښــکــلومه
چې منصور ته ګل ور وټومبي په دار کې

مــرور فــطــرت مـې بــېــرتــه را پخلا کړ
مـــا مــرغـۍ ویـشـتـلې نـه وه پـه چنار کې

دا زمـــا د مــعــشـــوقـــې د ګــوتـــو نـښـه
دغه سور ځونـډۍ چې ښکاري په سپتار کې

لــه خــنــدا یــې نـــرۍ غـــاړه ښــورېــدلــه
مــرغــلــرې یــې روانـــې وې پـــه تـــار کې

لــه خــلــوت نــه یــې را ووېـستـې مـلـنګه!
څــه اثــر و پـه دې ســوې سـنـدر مـار کې؟

وې: له غـره نـه بـیـا کاروان د غزل راغی
دا خــبــرې وې پـــه کــلــي او په ښـــار کې

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ